PROPERTY OF ACKU
احمد شاه وحدت
Ahmed Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برې د پرهیزګارانو په برخه ده. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې د هغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۳۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۹ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د مرغومی ۲۰ مه د۱۴۳۴ هـ ق د صفر المظفر ۲۲ مه د۲۰۱۳ م د جنوری ۹ مه

د کرزي او اوباما د خبرو مهم ټکي به څه وي؟

افغان چارواکي وايي چې که امریکا وغواړي جګړه ختمولی شي خو امریکا د دې لپاره چې په سیمه کې پوځي حضور ته دوام ورکړي قصداً غواړي چې جګړه اوږده کړي

د افغانستان حکومت هم د امنیتي موافقې په برخه کې یو لړ انتقادونه او ملاحظې لري. افغانستان امریکا ته د پوځي اډو د ورکولو په بدل کې د اوږد مهالو پوځي او اقتصادي مرستو او د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو تضمین غواړي.

کابل، رسنۍ:
سپینې ماڼۍ پرون اعلان وکړ چې بارک اوباما به د جمعې په ورځ په سپینه ماڼۍ کې د افغانستان له ولسمشر حامد کرزي سره ووینې.
ولسمشر کرزی، چې د دوشنبې په ورځ له کابله د واشنګټن په لور وخوځېد، د سې شنبې په ورځ امریکا ته ورسېد او د دغه هېواد له نورو چارواکو سره یې خبرې پیل کړې.
سپینې ماڼۍ په یوه اعلامیه کې ویلي: «اوباما غواړي چې په افغانستان کې د مسوولیتونو پر انتقال او د افغانستان او امریکا ترمنځ د اوږدمهالو همکاریو په اړه پر خپلو ګډو نظرونو خبرې وکړي.»
مخکې ویل شوي و او لا هم ګومان کېږي چې د افغانستان او امریکا ولسمشران به په دې کتنه کې امنیتي موافقه لاسلیک کړي چې د

پاتې ۴ مخ

یازده وزیر کابینه افغانستان هفته آینده استیضاح می شوند (ولسی جرگه)

کابل، رسانه ها:
ولسی جرگه افغانستان دیروز فیصله کرد تا یازده وزیر کابینه روز دوشنبه آینده استیضاح شوند.
قرار است یازده وزیر کابینه که در سال ۱۳۹۰ بودجه انکشافی شان را کمتر از پنجاه درصد مصرف کرده اند، دوشنبه آینده استیضاح شوند.
کمال ناصر اصولی رییس کمیته تحصیلات عالی و امور فرهنگی به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که این فیصله در کمیته روسا صورت گرفته است:
« در کمیتهء روسای ولسی جرگه تصمیم اتخاذ گردید که به روز دوشنبه آینده یازده وزیر کابینه حکومت جمهوری اسلامی افغانستان طبق فیصلهء قبلی ولسی جرگه به

بقیه در صفحه ۴

وسله والو طالبانو په نورستان ولایت کې د ځايي خلکو کورونه وسوځول

د نورستان ولایت په وایګل ولسوالی کې وسله والو طالبانو د یاد ولایت د ولایتي شورى د اوسني غړي او د تېرې دورې د ولایتي شورى د رئیس مولوي عنایت الله مذهب یار او د وایګل اوسېدونکي قاري جمال الدین کورونه وسوځول.
له څه مودې راهیسې په نورستان ولایت کې امنیتي وضعه تر پخوا زیاته خرابه شوې او د بدې امنیتي وضعې له کبله ځايي خلک له خورا زیاتو مشکلاتو سره مخ دي.
طالبانو ګواښنه کړې چې د هر هغه چا کورونه به وسوځوي چې له دولت سره تړاو لري. وسله والو طالبانو له حکومت سره تړاو

پاتې ۴ مخ

برادر کریم خلیلی ۱۵۰۳ جریب زمین را غصب کرده است – (زابلی)

برادر معاون دوم ریاست جمهوری بیش از هزار جریب زمین را در دامنهء کوه کروخ شهر کابل نیز غصب کرده است

کابل، رسانه ها:
کمسیون سمع شکایات مشرانو جرگه افغانستان برادر محمد کریم خلیلی معاون دوم رییس جمهوری این کشور را متهم به غصب هزار ها جریب زمین کرد.
کمسیون سمع شکایات مشرانو جرگه ادعا می کند که حاجی نبی برادر محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری زمین های دولتی مربوط وزارت دفاع و زراعت را در کابل و ولایت بغلان غصب کرده است.
داکتر زلمی زابلی رییس این کمسیون به روز سه شنبه در یک نشست خبری در کابل گفت که آقای نبی در منطقه دارالامان شهر کابل بالای زمین غصب شده، شهرک رهایشی اعمار کرده است.
وی همچنان گفت که برادر معاون دوم

بقیه در صفحه ۴

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

شهید انجنیر شیر محمد

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

احتمال باقی ماندن نیروی جنگی آلمان در افغانستان بعد از ۲۰۱۴

صدای آلمان:
با آن که قرار است نیروهای جنگی ایتلاف بین المللی تا پایان سال ۲۰۱۴ افغانستان را ترک کنند، اتحادیه نیروهای مسلح آلمان فدرال گفته است که اردوی این کشور بعد از پایان رسمی عملیات در افغانستان نیز به نیروی جنگی نیاز دارد.
اتحادیه نیروهای مسلح آلمان فدرال خواهان حضور نیروهای جنگی این کشور در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ شده است.
الریش کیرش، رییس این اتحادیه به روزنامه آلمانی «راینشه پوست» گفته است: «ما به نیروی (جنگی) احتیاطی ضرورت داریم تا در موقعیتی باشد که بتواند به بحران ها عکس العمل نشان بدهد».
قرار است سربازان بین المللی در ماموریت آموزشی و مشورتی بعد از سال ۲۰۱۴ میلادی نیز در افغانستان باقی بمانند. براین اساس، قرار است سربازان جنگی که احتمالاً در این کشور باقی می مانند، امنیت مربیان نظامی و روند انتقال سربازان و تجهیزات به آلمان را تامین کند.
دگروال کیرش گفته است که شمار دقیق

بقیه در صفحه ۴

د قاضي حسین احمد پر وفات کېدو

د جماعت اسلامي د تاریخ یوه بله پاڼه هم واوښته

فدا محمد فایض

جماعت اسلامي یواځې د پاکستان په محدوده کې پاتې نه شو؛ بلکې ددې اسلامي تحریک فکر د اسلامي نړۍ نورو هېوادو ته هم غزونې وکړې؛ هند، بنګله دیش، افغانستان، ایران او عربي نړۍ یې هم تر پوښښ لاندې راغله

هغه مهال چې د برتانیې په وړاندې د هندي ولس مبارزه ښه په شور و زور کې روانه وه او د مسلمانانو په دې مبارزه کې ډېره لویه برخه ده، د خپل عصر لوی مسلمان مفکر امام ابوالاعلی مودودي (رح) په ۱۹۴۱ کال کې د جماعت اسلامي په نوم د یوه اسلامي تحریک تاداو کېښود. مودودي (رح) ددې ترڅنګ چې د هند په استقلال کې هم برخه وه، تر هغه یې دا وه چې د اسلام ریښتینی انځور مسلمانانو او نړیوالو ته وړاندې کړي، امام مودودي د هند تر استقلال او ورسره جوخت وېش وروسته پاکستان ته راغی، او یوه ډېره پیاوړې فرهنګي او فکري مبارزه یې پیل کړه، ...

پاتې دویم مخ

رحمت الله هم د مظلومو شهیدانو له کاروان سره ملګری شو

(هغه خلکو ته مړه مه وایئ چې: د الله په لاره کې وژل شوي دي. په یقین سره ژوندي دي. خو تاسې پرې نه پوهېږئ) (البقره: ۱۵۴)
د غزني ولایت د اندړو ولسوالی د شهیدانو په کاروان کې یو بل ځوانیمرګ شهید هم ورګډ شو.
شهید رحمت الله چې د خپل عمر د راتلونکو ارمانونو په سر کې ولاړ ؤ، هغه د غزني ولایت د اندړو ولسوالی د عبدالرحیم په کلي کې په یوې داسې کورنۍ کې په ۱۳۶۸ لمریز کال کې زېږېدلی ؤ چې د ۱۳۵۷ لمریز کال د غویي د خونړۍ کودتا په راتلو سره دهغه نیکه شهید عبدالقیوم د اندړو په ولسوالی کې د لومړنیو مجاهدینو او شهیدانو څخه ؤ چې په ۱۳۵۸ کال د روسي غلامانو سره په مخامخ جګړه کې شهید شو. ...

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

قانون څوک نه پلی کوي؟

له ولسمشر کرزي نیولې تر یو عام وګړي پورې همدا یوه فریاد کوي چې قانون نه پلی کېږي او هر چېرته لاقانونیت خپلې منګولې ښخې کړې دي. هغه څوک چې د قانون قاتل دی هغه هم دلاقانونیت چیغې وهي او هغه څوک چې له خپل قانوني حق نه محروم دی هغه هم د قانون د نه پلې کېدو ژړا کوي، خو دې واقعیت ته هېڅوک غاړه نه ږدي چې قانون پخپل ذات کې داسې ذي روح شی نه دی چې پخپله حاکم شي بلکې دهغه مشین او یا د کارخانې په څېر دی چې چلوونکي ته اړتیا لري او تر څو پورې چې چلوونکی یې ونه چلوي پخپله نه چلېږي. د کائناتو خالق او مالک ذات انسانیت ته خپل قانون د قرآن کریم او نبوي سنت په بڼه کې استولې خود نفاذ واک یې په بشپړ ډول انسان ته ورکړی دی، که انسانان یې پخپله ټولنه کې نه نافذوي نو ګناه یې پخپله پر هغوی ده.

په افغانستان کې د قانون دنه پلې کېدل یو جرم، او بیا د حکومتي چارواکو او نورو مقتدرو وګړو له خوا د لاقانونیت چیغې وهل بل لوی جرم او د شرم خبره ده.

د قانون د پلې کولو اصلي مسؤولیت د چارواکو، اجرائیه او قضائیه قواو پر غاړه دی خو دوی قانون د مالوچو په څېر داسې ډانډس کړی دی چې ګردونه یې ټول اسمان نیولې دی.

چارواکي په ځانګړې ډول قضائیه قوا چې پخپله خوله د لاقانونیت چیغې وهي اصلاً پر قانون او پر خپل ځان ملنډې وهي.

دوی ګمان کوي چې ولس ساده او ناپوه دی او دهغوی په دې چیغو به تېر ووځي، په داسې حال کې چې ولس دهغوی هر حرکت او هره کړنه په دقت سره څاري. هغوی له الف نه نیولې تر یا پورې ددې پرځای چې قانون پلې کړي او دهغه ساتونکي شي، دلاقانونیت علمبرداران جوړ شوي دي، دهغوی هر حرکت او هره ادا د لاقانونیت څرګنده ګواهي ورکوي، ددې پرځای چې خجالت ورباندې وباسي برعکس ورباندې فخر کوي، که چارواکي چې د قانون د پلې کولو مسؤولیت پر غاړه لري لږ غوندې هم پخپلو خبرو غور وکړي نو دا واقعیت به درک کړي چې هغوی دداسې خبرو په کولو سره د خلکو پر زخمونو مالګه مرچکي شیندي او ملنډې ورباندې وهي. پر ملت د قانون دنه پلې کولو پړه اچول بې ځایه ده ځکه چې د قانون د پلې کولو بنیادي مسؤولیت د ولس نه، بلکې د چارواکو دی، که چارواکی قانون حاکم کړي نو ولس پخپله چار او لاچار د قانون په وړاندې سر ایښودلو ته اړ کېږي، د مثال په ډول که عدلي او قضایي ارګانونه او د دولت لوړ پوړي چارواکی د قانون د صحیح حاکمیت لپاره ملا وتړي او هر کار د قانون مطابق ترسره کړي نو ولس ته به له قانون نه د سرغړاوي جرئت څنګه پیدا کېږي؟ ولس بیچاره خو د دولت د لوړ پوړو چارواکو او د انصاف پر مسند ناستو قاضیانو د حرص او لالچ قرباني دی، که هغوی د ولس پر حقوقو ګېډې وانچوي او له رشوت او غبن پرته ورته خپل حقوق **ور کړي نو ولس** کوم لیوني سپي چیچلي دي چې رشوت او درغلۍ کولو ته یې اړ کړي. اصلاً د قانون د پلې کولو کیلي د دولت د مقتدرو اشخاصو په لاسو کې دی، که هغوی وغواړي قانون حاکم کړي او هر څوک د قانون په چوکاټ کې ژوند ترسره کړي نو دا کار له څنډ او خنډ پرته عملي بڼه خپلولې شي ځکه چې د دولت د لوړ پوړو چارواکو مثال د اورګاډي د انجن په څېر دی که هغه د اوسپنې په کرښه صحیح روان وي نو ورپسې ترلي ډبې هم صحیح او سالمې روانې وي خو که انجن له خپلې کرښې نه بې ځای شي نو شاته ډبې هم بې ځای کېږي. خو متأسفانه په افغانستان کې چارواکي هر څه ابوته غواړي، ددې پرځای چې د ولس د مقتدا په حیث د قانون د پلې کولو چارې پخپل غاړه واخلي او پخپله ورباندې عمل وکړي برعکس له ولس څخه د قانون د پلې کولو غوښتنه کوي چې دا هم له قانون نه د سرغړاوي ستر دلیل او پر هغه ملنډې وهل دي.

الله دې وکړي زموږ چارواکي په خود شي، خپل دروند مسؤولیت وپېژني او د قانون حاکمیت له خپل ځان نه پیل او د افغانستان په هر ګوټ کې تطبیق کړي.

د قاضي حسین احمد پر وفات کېدو

د جماعت اسلامي د تاریخ یوه بله پاڼه هم واوښته

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

...هغه پر دې پوهېده چې پاکستان خو د اسلام په نامه جوړ شو (۱۹۴۷)؛ خو دلته به تر ډېره پورې همغه انګریزي قانون چلېږي یعنی پاکستان هغه هدف ته د رسېدو په خاطر ډېر واټن په مخ کې لري چې دهغې په نامه جوړ شو.

په دې کې شک نشته چې پاکستان یو اسلامي هېواد دی او د ډېرو لږو غیر اسلامي لږکیو نه وراخوا چې عیسویان، سیکان او هندوان په کې راځي پاتې ملت یې مسلمان دی او ډېره قوي اسلامي جذبه لري، خو نظام یې لاهغسې یو نظام نه دی چې سړی ورته یو کامل اسلامي نظام وویلای شي. کوم اسلامي نظام چې د مولانا مودودي مرحوم په آثارو کې او په ځانګړې توګه دهغه په اسلامي ریاست نومي اثر کې چې د پروفیسر خورشید احمد په وسیله راټول او تدوین شوی دی، معرفي شوی، هغه نظام دی چې د اسلام نور مفکرین له شهید استاد سید قطب، استاد محمد قطب او د اسلامي نړۍ نور مفکرین یې همدغه انځور وړاندې کوي.

جماعت اسلامي یواځې د پاکستان په محدوده کې پاتې نه شو؛ بلکې ددې اسلامي تحریک فکر د اسلامي نړۍ نورو هېوادو ته هم غزونې وکړې؛ هند، بنګله دیش، افغانستان، ایران او عربي نړۍ یې هم تر پوښښ لاندې راغله، او ان چې مرکزي آسیا، روسیې او نورو غربي هېوادو ته یې هم د امام مودودي د آثارو د ژباړو له لارې، لار پیدا کړه، عجیبه ده چې د پولینډ د کمونیست ګوند مشر عطاء الله کوپانسکي د مولانا مودودي د آثارو له هغو ژباړو نه چې په روسي ژبه شوې وې په اغیز منلو سره د اسلام مقدس دین مني او مسلمانېږي. همدغسې په غربي نړۍ کې ګڼ شمېر کسان د مولانا مودودي د آثارو په مطالعې سره مسلمانېږي.

امام مودودي د خپل عمر په پای کې د جماعت اسلامي د لومړني امیر په توګه له خپلې دندې استعفا وکړه او دا رسم یې پرځای پرېښود چې باید یو څوک د مرګ تر ورځې پر خپله دنده د پاتې کېدو هوډونه لري، تر هغه وروسته دهغه ډېر نژدې، مخلص او فداکار ملګری میا طفیل محمد مرحوم د جماعت د نوي امیر په توګه غوره کړای شو، او هغه هم د مولانا مودودي مرحوم په څېر کله چې کمزوری شو د جماعت د اصولو سره سم د خپلې دندې له ادامې مستعفي شو او په ۱۹۸۷ کې قاضي حسین احمد مرحوم د جماعت د دریم امیر په حیث غوره کړای شو.

قاضي حسین احمد چې د روان کال (۱۳۹۱) د مرغومي پر اوولسمه شپه (۲۰۱۳/۱/۶) د زړه د ناروغۍ له لامله د ۷۵ کالو په عمر له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې، ځانګړي ځانګړنې لرلې او په ډېرو ځانګړو شرایطو کې د جماعت اسلامي امیر شو.

دا هغه مهال و چې نه دا چې په افغانستان کې یوه کمونیستي کودتا (د ۱۳۵۷ د ثور اووم) (۱۹۷۸) د روسانو په مرسته او لارښوونه بریالۍ شوې وه بلکې ورسره د شوروي سرو پوځونو هم پر افغانستان نظامي یرغل کړی و (۱۳۵۸) (۱۹۷۹) او سره پوځونه په افغانستان کې که څه هم چې پر افغانستان د روسانو نظامي یرغل ټوله نړۍ ان چې لویدیزه نړۍ چې په سر کې یې امریکا راځي او همدارنګه د سیمې هېوادونه سربېاله کړي وو خو په افغانستان پسې، پاکستان تر ډېر ګواښ لاندې و؛ ځکه پاکستان پر دې پوهېده چې د شوروي دا اقدام د پټرد دکتورینو هغه برخه ده چې په هندوستان کې د بریتانیا د حضور له لامله د آمو سیند پر غاړه ودرول شوې وه. که څه هم د پاکستان دهغه مهال ولسمشر جنرال ضیاء الحق یو ځل کابل ته راغې او له نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین سره یې په پغمان کې وکتل او بیا یې په ۱۳۵۸ کې د ناپیلو هېوادو د کنفرانس پر مهال دوه ځله په هاوانا کې له نور محمد تره کي سره وکتل او پر یو لړ مسایلو سره موافقې ته هم ورسېدل، خو د هاوانا له کنفرانسه په راستنېدو تره کي له حفیظ الله امین سره د اختلاف په نتیجه کې ووژل شو او حفیظ الله امین هم تر سلو ورځو واکمنی وروسته کله چې روسي پوځونه کابل ته راورسېدل د روسي پوځونو په وسیله ووژل شو؛ ببرک کارمل له روسي پوځونو سره یو ځای کابل ته راوستل شو او د کابل پر تخت کښېنول شو. دا مهال نو کوم مزي چې جنرال ضیاء له تره کي او امین سره زغلولي وو، وشلېدل، اوس نو یوه نوې مرحله پیل شوه او هغه هم د روسي لښکرو له حضور سره.

پاکستان ډېره ښه لار دا وموندله چې افغان مهاجرینو ته په خپله خاوره کې پناه ورکړي؛ ځکه د روسي لښکرو په راتلو سره د کمونیستي واکمنی پرخلاف پیل کړای شوی افغان جهاد د هېواد ګوټ ګوټ ته ریښې وځغلولې او د ډله ییزو هجرتونو لړۍ پیل شوه چې عمدتاً پاکستان او ایران ته پیل شوه؛ خو په دې کې هم د پاکستان امتیاز دا و چې د افغان جهاد عمده مشرانو په پاکستان کې حضور درلود، یوازې یو شمېر شیعه مشران په ایران کې وو چې دهغوی نقش د یوه مذهبي لږکي په توګه د سني مشرانو په وړاندې ډېر لږ و.

د پاکستان دولت ددې ترڅنګ، چې پخپله به یې هم د افغان مجاهدینو مرسته کوله دې ته هم اړتیا لرله چې د مذهبي ګوندونو له قیادتونو نه هم مرسته وغواړي، چې په دې لړ کې د جماعت اسلامي نقش تر نورو ډېر برجسته و او په جماعت کې هم قاضي حسین احمد هغه څوک و چې هم د جماعت اسلامي مشر و (۱۹۸۷ - ۲۰۰۹) هم پښتون و او هم یې د افغانستان له جهادي مشرانو سره ان د ظاهر شاه له زماني نه پېژندګلوي لرله؛ ځکه د افغانستان د اسلامي تحریک یوه نابغه مشر شهید انجنیر حبیب الرحمن لاهمغه مهال پاکستان ته یو پټ سفر کړی او د جماعت له مشرانو په ځانګړې توګه قاضي حسین احمد سره یې کتلي وو، کله چې د داوود خان د جمهوري ریاست پر مهال د افغانستان د اسلامي نهضت یو شمېر مشرانو لکه انجنیر حکمتیار، استاد برهان الدین رباني، شهید مولوي حبیب الرحمن، قاضي محمد امین وقاد، مولوي محمد یونس خالص، شهید مولوي جمیل الرحمن او نورو پاکستان ته هجرت وکړ، نو له قاضي حسین احمد سره یې نژدې ناسته ولاړه او ټګ راټګ درلود؛ خو له افغان جهاد سره د جماعت اسلامي مرسته زیاتره سیاسي او فرهنګي وه، جماعت د افغان جهاد پر مهال زیاتره مجاهدینو ته د جهاد کانفرانس تر سرلیک لاندې غونډې جوړولې او مهاجرین یې جهاد ته هڅول، په دې کنفرانسونو کې به زیاتره قاضي حسین احمد هم برخه اخسته او حاضرینو ته به یې وینا کوله، همدارنګه د جماعت له خوا به زیاتره هغه اسلامي آثار چې په پښتو ژباړل شوي وو ویشل کېدل. تر یوه وخته پورې به جماعت اسلامي له مهاجرینو سره د خیمو مرسته هم کوله خو دې لړۍ ډېر دوام ځکه ونه کړ چې جماعت له مالي پلوه دومره وس نه درلود، البته د افرادو په توګه د جماعت اسلامي یو شمېر متعهدینو په افغان وسله وال جهاد کې هم برخه واخسته چې له هغې جملې نه یو هم د هنګو د مرحوم مولوي سلیم زوی شهید فضل الربي و چې د ننګرهار ولایت په سره رود ولسوالۍ کې په جهاد مصروف و او همله شهید شو.

د جماعت اسلامي پخواني امیر مرحوم قاضي حسین احمد چې په ۱۹۳۸ کې زېږېدلی و په ۱۹۷۰ کې یې د جماعت غړیتوب ترلاسه کړی و او په دې تنظیم کې یې پر مهمو پوستونو سربېره له ۱۹۸۷ نه تر ۲۰۰۹ پورې ددې تنظیم د امارت دنده هم پر غاړه لرله، په ځانګړې توګه د پاکستان او سیمې د وروستیو درې څلورو لسیزو په دوران کې یوه پېژندل شوې سیاسي څېره وه. قاضي حسین احمد په ۲۰۰۹ کې د جماعت تر استعفا وروسته چې پر ځای یې منور حسن غوره کړای شو، بیا هم د سیاسي انزوا خواته ولاړ نه شو، بلکې په سیاست کې یې په یوه ډول نه یوه ډول خپل حضور ساته، هغه په افغانستان کې د امریکا له حضور سره هم مخالف و او ددې حضور په صورت کې په افغانستان کې د سولې تصویر تت په نظر ورته. که څه هم طالبانو ده ته په ښه نظر نه کتل خو ده یې تایید کاوه.

قاضي حسین احمد سره له دې چې د جماعت اسلامي په څېر د یوه نړیوال تحریک مشر پاتې شوی و خو خپلو هېوادنیو ګټو ته هم ډېر سخت ژمن و او په دې باب یې له بل چا سره له هېڅ راز سخاوته کار نه اخست او یا که دا رنګ یې تعبیر کړای شو، هغه د یوه اسلامي فکر په چوکاټ کې یوه قوي ملي مفکوره هم لرله. دهغه د امارت پر مهال پر جماعت دا تور هم و چې له پاکستانیو استخباراتو سره یې نژدې اړیکي لرل او په ځانګړې توګه یې د افغانستان او کشمیر په اړه ګډه اجندا پرمخ بیوله، په هر حال هغه اوس له دنیا سترګې پټې کړي او تیره یکشنبه (۱۳۹۱/۱۰/۱۷–۲۰۱۳/۱/۶) د نوښار مربوط په کاکاصاحب کې چې دده پلرنی کلی دی، خاورو ته وسپارل شو له خدایه (جل جلاله) ورته د بخښنې لپاره لاسونه لپه کوو، موږ د الله یو او دهغه پر لور ورګرځېدونکي یو.

که څه هم چې جماعت اسلامي د پاکستان له عمره زیات عمر لري، ډېر پیاوړی مشران لري چې په پاکستاني سیاست کې یې اغیز هېڅکله هم نالیدلی نه شي ګڼل کېدای؛ خو په دې کې شک نشته چې قاضي حسین احمد د مرګ تر ورځې د جماعت اسلامي په رهبرۍ او تصمیم نیونو کې رغنده نقش درلود، هغه د خپل امارت پرمهال جماعت اسلامي د یوه فکري تنظیم ترڅنګ دومره پر یوه فعال سیاسي تنظیم هم بدل کړ چې سیاسي رنګ یې پر فکري هغه هم غالب ښکارېده، او دا له فکري پلوه د جماعت په ګټه کار نه و.

دا هم باید هېر نه کړو چې په ځانګړې توګه د جماعت اسلامي د لومړني امیر امام ابوالاعلی مودودي (رح) آثارو د افغانستان د اسلامي تحریک د ځوانانو په فکري روزنه کې ځانګړی نقش درلود او تر کومه چې زما مطالعه ده، لومړني آثار یې د شهید استاد برکت الله مستعان له خوا په پښتو وژباړل شول چې الله (جل جلاله) دې یې په حسناتو کې حساب کړي.

د بګرام په وحشتناک زندان کې
د ځورونکو شپو یاد

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

(درېیمه برخه)

داساسي قانون د۳۴ مادې له مخې دبیان آزادي له هرډول تیری څخه خوندي ده هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې په دې اساسي قانون کې دراغلو حکمونو په رعایت څرګند کړي.

دغه راز داساسي قانون ۳۷ ماده لیکي چې: داشخاصودمخابرې اولیکونوآزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا دټیلفون اوتلګراف یا نورو وسیلو له لارې له تیري څخه خوندي دي دولت د اشخاصو دمخابرو او لیکنو د پلټنې حق نه لری.

همداراز داساسی قانون ۳۸ مې مادې له مخې دشخص استوګنځي له تیري څخه خوندي دي ،هیڅوک ددولت په ګډون نه شي کولای داستوګن له اجازې یا دواکمنې محکمې له قرارپرته او له هغو حالاتواولارو چې په قانون کې ښوول شوي دچا کورته ور ننوزي یا یې وپلټي.

دپوښتنو په سر کې یې راته ویل: ووایه چې ستا هغه بل نوم څه دی ما ورته وویل چې زه ژورنالیست یم لاړه شه انترنیټ کې زما نوم ورکړه اوهتله زما په اړه مکمل معلومات شته دی زه بل نوم نه لرم ده بار بار پوښتنه کوله او سختې بدرنګي پوښتنې یې کولې اوزه تراخره ددوی په مطلب پوه نه شوم یوه شی چې ډیر د دردونکی هغه د ترجمانانو ترجماني وه چې غلطه ترجماني یې کوله او ما به ورته یوڅه ویل اوده به بل څه ویل اخر مې امریکایي ته وویل چې که مې وژنې زه اماده یم خوکه دترجمان په خوله رانه تحقیق غواړې زه نورې خبرې له ترجمان سره نه کوم او زه پخپله ستاسو پوښتنو ته ځوابونه درکوم هماغه وو چې راسره قبوله کړه او ترجمان لالا یې رخصت کړ او شرمنده ووت.

ډیرې پوښتنې یې په دې اړه ورځنې بندیخانه کې رانه وکړې او ما به ډیر ورته ویل چې زه ژورنالیست یم او بله ګناه نه لرم ته راته ووایه چې زما ګناه څه او ما څه عمل کړي چې هغه ددې سبب شو چې زه یې امریکایانو ونیولم هغه راته ویل چې ته دا خبره مه کوه او ستا ټول اعمال به امریکایی محکمه او امریکایی مستنطقین څاري اوتا ته به دقانون په رڼاکې سزا درکوي هماغه وو چې راته یې خپله وویل: موږ ستا لپ ټاپ کمپیوټر، ستا مبایلونه، ستا کمره اوستا کانټکټ لیست ګورو دا ټول ښیي چې ته ژورنالیست یې داخبره سمه ده ما ورته وویل چې زما جرم نو څه شو چې تاسو دامنی چې ته ژورنالیست یې نو زما بل جرم څه دی ده راته ویل چې داپوښتنه مه کوه موږ تحقیق کوو ما ورته وویل چې تاسو ولې ماته زنګ ونه واهه، ولې مو راته ایمیل ونه لیږه، ولې مو زما ددفتر لخوا ماته احوال رانه کړ چې زه خپله درغلی وای دا وحشت دې ولې خپور کړ ولې دوحشي په شکل زما کورته راغلی، زما دروازې دې ماتې کړې زما شیشې دې ماتې کړې زما پر کورنۍ دې مرګ تیر کړ او زه خو کوم مجرم نه وم زه خو خپلې چارې په قانوني توګه ترسره کوم ولې دې دا کار ترسره کړه؟ هغه راته ویل چې بس ته خبرې مه کوه اوس به معلومه شي چې ژورنالیست یې که څوک ؟

لنډه داچې په زندان کې په دې تیرو اتو ورځو کې سخت وهل ډبول او چیغې وې او هیڅ افغان نه ترسترګو کیدو او ټول امریکایان وو او ډوډی یې نه راکوله او کومه ډوډی چې ددوي لخوا راوړل کیدله هغه به دخوړلو وړنه وه کوم شیان چې دبشری حقونو سازمانونه او دانورې ډلې دبندیانو لپاره وړي دوی هغه هیڅ هم عملي نه کړل زما کورنۍ او زما ټول دوستان په دې نه وو خبر چې ابراهیمي مړ شو اوکه ژوندي یعنی دامعلومات یې زما کورنۍ ته نه ورکول اونه یې هم ما ته ددې اجازه راکوله چې زما دوسیه او جرم څه دي.

اوکله به چې تشناب ته لاړو هلته به یې اوبه نه راکولې او اوداودس لپاره او لمانځه لپاره هیڅ نه وو لنډه داچې یو وحشت اوتوره تیاره وه او ډیره ظالمانه برخورد یې کاوه.

خو تر آخره ما دا فکر نه کاوه چې زه دځمکې لاندې یم اوکه دځمکې پرسربم یعنې هم به مې سترګې تړلې وې هم به مې لاسونه ولچک وو اوهم به مې پر غوږونو ګوشي بندې وې چې څه وانه ورم....

(نور بیا)

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامهٔ شماره گذشته)

نقش جامعه مدنی در دولت و تاثیر گذاری جوانان در آنها: در کشورهای که جامعه مدنی بشکل طبیعی و قانونمند آن از میان مناسبات اجتماعی نظام سرمایه داری برخاسته است. نقش آن در تصمیم گیری های مراجع و عمال قدرت مؤثر افتاده است.

شکل گیری جامعه مدنی طرز سلوک کشورها و یا جوامع که اقتدار ذریعه اقلیتها و یا طبقات حاکمه که بشکل فرار از قانون و با میل و ارادهٔ خود درآورده اند، بیشتر دیده می شود. و جامعه مدنی در چنین وضعیت که رفاه همگانی و حقوق مدنی افراد مورد تهدید قرار گرفته نقش جامعه را به خاطر تغیرات اجتماعی و سیاسی پراهمیت میسازد. مناسبات اجتماعی جدید که با بیشرفت ها در ساحه دانش و انکشافات جدید در تکنالوژی و علوم معاصر که ساختار مناسبات اجتماعی و تولیدی را پیچیده ساخته و تحولات مغلق را به بار آورده است که سبب پیچیده شدن و تخصصی ساختن تقسیم اجتماعی کار، پیچیده شدن ساختار و وظایف دولت، بوجود آمدن صنوف و طبقات مختلف اجتماعی جدید، شکل گیری اتحادیه های مختلف، تشکلات جدید اجتماعی، اقتصادی، تأسیس احزاب سیاسی با ایدیالوژی و دیدگاه های خاص همچنان سبب پیدایش مطبوعات آزاد و رسانه های گروهی مستقل گردیده است. واضح است ما نمیتوانیم جلو حرکت طبیعی تاریخ را که با خود تحولات و تطورات را در زمینه های مختلف اجتماعی، سیاسی و اقتصادی دارد سد نمائیم. با گذشت زمان با وارد آمدن تغیرات در عرصه های مختلف زندگی انسان، جامعه مدنی هم به اشکال مختلف تبلور یافته و تأثیرات عمیق خود را در تغییر شکل مناسبات اجتماعی و تولیدی وارد نموده است. زمانیکه یک جامعه بطرف رکود اقتصادی میرود جامعه مدنی علل رکود را در آن مورد ارزیابی قرار میدهد و سیاست گذاری ها و دیدگاه های حکومت ها را در آن مطالعه نموده علل و عوامل پیچیده آنرا که چه اسباب و عوامل باعث این رکود گردیده مورد ارزیابی قرار میدهد. با تحلیل از آن انتقادات خود را با ارایه دلایل معقول بخاطر جلوگیری از بحران به دولت ها پیشنهاد میتماید. زیرا هر نوع سیاست گذاری که رفاه همگانی و مناسبات قانونمند اجتماعی را مورد سوال قرار میدهد نقش جامعه مدنی در دفاع از افراد جامعه بیشتر میسازد. طوریکه دیده شده است مداخله جامعه مدنی در جلوگیری از عمال دولت از طریق فشار بالای طبقات مختلف جامعه کارگر واقع شده و دولت ها را متوجه ساخته تا حقوق مدنی افراد را مطابق قانونمندی های قبول شد عرصه های مختلف حیات اجتماعی مراعات نموده و نظریات افراد جامعه را در شکل گیری بهتر نظم و قانون با خود داشته باشند.

در این شکی نیست که در جوامع پیشرفته مناسبات تولیدی و اجتماعی در آنها بشکل طبیعی شکل گرفته است و نقش جامعه مدنی در تصمیم گیری های مراکز اعمال قدرت سیاسی اساسی بوده، زیرا هر قدریکه جوامع بشکل طبیعی شکل میگیرند و انکشاف مینماید به همان اندازه سیاست های مراکز اعمال قدرت و حکومت در آن تغیر می یابد. که این تغییر و تحول نقش جامعه مدنی را بیشتر نموده، نظارت آنرا بالای مراکز فوق قویتر میسازد، این جاست که مطبوعات آزاد بیشتر فعال گردیده و از طریق رسانه های همگانی خواست ها و روش های مطلوب را به جامعه بازگو نموده و نظارت خود را ازین طریق بالای حکومت بیشتر میسازد.

مداخله و نقش جامعه مدنی را در شکل گیری آن در درون دولت ها میتوان چنین ارزیابی نمود.

۱- شکل گیری طبیعی و قانونمند جامعه مدنی: جامعه مدنی بشکل طبیعی و نظارت گر در پهلوی اعمال قدرت اساسی در حرکت بوده و مراقب اوضاع و احوال آن میباشد و برای قانونمندی جامعه مبارزه میکند. در این شکی نیست که جامعه مدنی از متن استبداد رژیم های توتالیتر در فرهنگ جدید آن بمیان آمده است و در آنجائیکه حقوق شهروندی و طبیعی مردم مورد تهدید طبقات حاکم و ظالم در جامعه قرار گرفته اینها نقش آفرینی نموده اند و جامعه ستم طبقاتی را با قوه مدنی با بلند نمودن صداها و اعتراضات همگانی و بسیج توده های که از حقوق طبیعی خویش محروم مانده اند مورد خطاب قرار داده اند و آنها را از طریق فشار مدنی (قانون گرایی، حاکمیت قانون و احترام به حقوق طبیعی افراد، اعتراضات گروهی مطبوعات و رسانه های آزاد، و احزاب سیاسی و صنوف مختلف اجتماعی) وادار نموده اند که در مناسبات تولید و توزیع ثروت ها و قدرت سیاسی متوجه حقوق همه کسانی باشند که در یک جامعه انسانی زندگی میکنند. در این جا منظور ما صرف از جامعه مدنی بشکل غربی آن نیست که در تحت سیطره نظام های غیر اسلامی به تشکلات اقدام نموده اند جامعه مدنی در فهم دین اسلام و در بحث جامعه غیر اسلامی کاملاً متفاوت است، در جوامع اسلامی مناسبات اجتماعی و تولیدی و توزیع ثروت های مادی و معنوی جامعه دارایی شکل و محتویات مخصوص بوده و در تحت نظارت قانون آسمانی به کار خود ادامه داده و مراکز اعمال قدرت اساسی را تحت نفوذ خود قرار میدهد، و مانند جوامع لیبرال غرب با استفاده از نام جامعه مدنی و حقوق بشر تلاش فقط بخاطر ارضای غرایز نفسانی و وضع قوانین ضد فطرت بشری می نمایند......

(ادامه دارد)

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید انجنیر شیر محمد

از آرشیف خانه جهاد افغانستان



واقعاً سخن گفتن در بارهء شهید و شهادت امریست بس مشکل نمیتوان بجز آنانیکه خود حلاوت شهادت را نوشیده اند ازین مقام ملکوتی سخن به رشتهء زبان در آورد.

چون سخن در وصف این حالت رسید هم قلم بشکست و هم کاغذ درید.

در وصف مقامیکه قلم بشکند و کاغذ بدرد من کجا خواهم توانست با زبان گره خورده و جامهء ناپخته و قلب غمدیده درین باب به سوگ بشستگان دردمند در کویرستان های سوزان مجرب که هر آن در انتظار به ثمر رسیدن نهال خونبارا انقلاب دقیقه شماری می نمایند و فرزندان شان را پس هم در پای آن هدیه گذاشته اند سخن گفت. فقط درین جا چند قطره اشک بمناسبت یاد اوری یکتن از شهدای عزیز که از قلب شکسته ام برخاسته و از مژگان جامهء ناپخته ام در صفحه کاغذ چکیده است در پای عزیزان نثار می کنیم.

آری! هنگامیکه ابرهای سیاه ظلمانی فضای نیلگون کشورم را می پیچید. و آنگاه که پای ناپاک سفسطه سرایان مادی بمنظور غصب سرزمین اسلامی و تفویض نمودن افکار و اندیشه باب اسلامی مردم مان دارند. آنگاه که مقدسات و شعائر اسلامی ما مورد اهانت و تمسخر قرار میگرفت در آن زمان بیرق مبارزه علیه کفر و الحاد بلند شد، در آن زمان صدای پر خروش جوانان با احساس میهن که در سینه های شان ایمان موج می زد و از اعماق قلب و ژرفنای ضمیر شان برخاسته بود نور آفرینی داشت که به مرور زمان آن سرود جان بخش آواز دل انگیز همه گیر شد و در کوهپایه های غرور آفرین بابا و هندوکش و سفید کوه و سیاه کوه و دره های زیبا و پر خم و پیچ نورستان و سراسر میهن طنین افکند.

در آن زمان آن صدای کفر شکن و این حرکت توفنده و مواج از پوهنتون کابل به رهبری نهضت خونچکان اسلامی کشور جهت درهم ریزی کاخ های استبداد که از خون مظلومان و یا پزشکان و دردمندان اعمار گردیده به راه فساد یا ویرانه های آن چراغ محبت و عدالت و آزادی و برادری و انسان دوستی و خدا پرستی افروخته شود. از جمله لبیک گویان این نوای دل انگیز و سرود حیات بخش هیجان خیز از جوانی پرشور و تلاشگری یاد باید کرد که اکنون در میان ما نیست ولی روح پرخاشگرش هر لحظه ما را بسوی خویش می خواند، از او باید نامبرد که اخلاق، تقوا، مبارزه، ثبات، پایمردی، دلاوری، جهاد و حرکت و توفان با سلول سلول وجودش عجین گردیده بود. این مجاهد حماسه ساز و پرخاشگر انجنیر شیرمحمد است که در سال ۱۳۳۲ در قریه جناخیل در ولسوالی نورستان ولایت شهید پرور لغمان در یک خانواده متدین و خدا پرست چشم به جهان پر آشوب باز کرد. قبل از آنکه به مکتب پا نهد به مسجد رفت و به تحصیل علوم اسلامی پرداخت. هفت سال داشت که قدم به دایره مکتب نهاد. در سال ۱۳۵٤ از لیسه رحمان بابا به درجه عالی فارغ گردید و در سال ۱۳۵۵ شامل پوهنحی پولتخنیک شد.

انجنیر شهید هنوزمتعلم مکتب بود که با اندیشه های وارداتی و تحفه های فریبنده و بدبخت کنندهء تمدن جهان سوز جدید و هدایای که استکبار جهانی در راس آن استعمار پر تزویر سرخ های سیه کار ذریعه استبدادگران داخلی به ملت مستضعف ما به ارمغان اورده بودند آشنا شد، این جوان آگاه که سراپا عشق بوده است و ایمان، شور بوده است و قیام، حرکت بوده است و توفان در راه مبارزه با افکار پوچ و میان خالی ماده پرستان زورگو، بی فرهنگ و وحشی می افتد تا این جرثومه های فساد جامعه اش را آلوده نسازد، بلا درنگ در صف نهضت پر افتخار کشور می پیوندد دیگر یک لحظه آرام نمی گیرد به دعوت و تنویر و ارشاد های جوانان می پردازد.

سال سوم تحصلیش در پوهنتون میباشد که پرچمداران بی پرچم و خلقی های ضد خلق به استشاره روس های سفاک و خونریز در اثر کودتای نامیمون ثور به اریکه قدرت تکیه می زنند.

او بتاریخ ۹ ثور ۱۳۵۷ دو روز بعد از کودتای انسان دشمن کمونیزم راه دیار هجرت را در پیش می گیرد بعد ایز هفته درنگ در مقر فرماندهی جهاد غرض اجراء پاره از امور رهسپار قندهار می شود بعد از انجام ماموریت در برج اسد ۱۳۵۷ با شهید محمد امین (ذبیح الله) راهی نورستان لغمان را در پیش میگیرد. این رزمنده درد آشنا و مجاهد مکتبی می تواند در مدت کمتر از یک ماه مردم متدین و مجاهد پرور نورستان را به جهاد علیه رژیم مزدور و پوشالی ترکی تنظیم و آماده سازد تا از آن جا غرض تامین ارتباط و تنظیم سنگر داران آزاده بسوی البنگار و مرکز لغمان به راه می افتد که متاسفانه در جریان راه در کمین مزدوران وطنفروش قرار میگیرد. ....

بقیه در صفحه چهارم

د افغانستان ملي گټې به افغانان په نظر کې نیسي او که بل څوک؟

محمد خلیل

دا چې ښاغلی حامد کرزی امریکا ته په سفر تللې دی د افغانستان وگړي پخپلو ویناو کې غوښتنه کوي چې ولسمشر کرزی دې امریکا دېته قانع کړي چې د افغانستان ملي گټې په نظر کې ونیسي او د افغانستان د پرمختگ لپاره کار وکړي، پوښتنه داده چې ایا دا افغانانو ته ډېره ضروري ده چې د افغانستان ملي گټې په نظر کې ونیسي او که امریکا ته؟ هغه مسؤولیت چې پخپله افغانان یې په غاړه لري ولې د بل چا په اوږو د باړولو کوښښ کوي؟ او آیا دا شونې هم ده چې امریکا دې د افغانستان ملي گټې په نظر کې وساتي او دهغې په دې کار سره افغانستان گل او گلزار هم شي؟ په خدای قسم چې تر څو پورې افغانان پخپله خپل ملي گټې په نظر کې ونه نیسي او د خپل هېواد د پرمختگ لپاره پخپلو سره کې یو موټی نه شي د افغانستان ملي گټې به کله هم تأمین نه شي. آیا دا د افغانانو لپاره د شرم او خجالت خبره نه ده چې له بل چانه د افغانستان د ملي گټو د خیال ساتلو او د هېواد د پرمختگ لپاره د کار کولو غوښتنه خو کوي مگر پخپله د خپل هېواد د ملي گټو د خوندیتوب پرخلاف گامونه پورته کوي، که بالفرض امریکا او نور هېوادونه د افغانستان د ملي گټو خوندیتوب او دهغه د پرمختگ لپاره د هلو ځلو ډاډ هم ورکړي آیا دهغوی لومړی پوښتنه به دا نه وي چې تاسې پخپله څومره د خپل هېواد ملي گټو او پرمختگ خیال کړې او دې لپاره مو کوم عملي گامونه اوچت کړي دي؟ افغانان باید نور د تجاهل او غیر مسؤولانه خبرو څخه ډډه وکړي او د بوسو لاندې د اوبو تېرولو څخه دې لاس په سر شي، ددې پرځای چې د بل چانه له افغانستان او افغانانو سره د مینې او اخلاص غوښتنه وکړي پخپله د مینې او خلوص ثبوت ورکړي، داسې کله هم نشي کېدلی چې پخپله خو دې د هېواد د ورانولو لپاره ملا تړلی وي او پخپل لاس خپلې ملي گټې تالا والا کوي مگر له بل چانه دې دهغه د جوړولو توقع وکړي، نه له چاسره دومره مالي څواک دی او نه هم ځاني چې د افغانستان هغه مات گوډ سم کړي چې افغانان یې پخپله په مسلسل ډول رامنځته کوي.

افغانان باید دا واقعیت ومني چې په دې نړۍ کې هېڅوک د خدای د رضا لپاره څه نه کوي بلکې د خپلو مرستو په بدله کې له بل نه هم د خپلو گټو غوښتنه کوي، که افغانان پخپل همت پخپلو پښو د ودرېدو کوښښ نه کوي او تل لپاره د بل چا د اوږو بار جوړېږي نو د زړه په غوږونو دې واوري چې د پردیو د هر ډول مرستو لوړ قیمت به خامخا ورکوي.

دې لپاره چې افغانان د نورو ولسونو په څېر د عزت او غیرت ژوند خاوندان شي ددې خبرې کلکه ضرورت دی چې د خپل هېواد د ملي گټو ساتنه او خیال پخپله وکړي، د همت او غیرت په ملاتړلو سره په یو غږ د ژوند په هر ډگر کې پخپله د خود کفا کېدو جدي هلې ځلې وکړي او خپل ځانونه ددې جوگه کړي چې د راکړې ورکړې په ډگر کې که له چانه څه غواړي نو په عوض کې به ورته د ورکولو توان هم ولري، نه دا چې ټول ژوند په سوال او گدایې کې تېر کړي او تېتې سترگې وگرځي.

شهید انجنیر شیر محمد ...

در ۱۸ سنبله ۱۳۵۷ بود که بسوی شکنجه گاه جهنمی صدارت کشانیده می شود بعد از شکنجه های جانگاه و جانفرسای خاد و صدارت به سلول های تاریک باستیل پلچرخی می افتد. انواع جور و ازار و اذیت را با صبر و پایمردی تحمل میکند الله الحمد ازین آزمون بزرگ موفق بدر می آید. و هنوز جریان تحقیق به پایا نرسیده بود که توسط میل های تانک روس ببرک به سر قدرت شانده می شود، در همین زمان این شیر آزادمنش از اسارت آزاد می شود بلا وقفه با پاسداران آزاده سنگرهای خونین جهاد در ولایت لغمان می پیوندد درین اثنا سنگر گزینان قهرمان نورستان این اسطوره ء مقاومت و پایمردی را بحیث فرمانده عمومی خویش انتخاب می نمایند. از هنگامیکه این مسئولیت عظیم و ماموریت خطیر بدوش وی سپرده می شود برای لحظهء محدودی هم سلاح بر زمین نمی گذارد. در تمام عملیات ها در پیشاپیش همسنگرانش قرار می گیرد با قوای تهاجمی علاوه از آنکه دلیرانه مقابله داشته تلفات سنگین نیز بر پیکر لرزان شان وارد آورده است. در جریان جهاد چهار مرتبه زخم بر می دارد ولسوالی های سنکو، الینگار، علاقه داری مندول و بیش از ۲۵ پوسته عمدهء دولتی در اثر فرماندهی این قهرمان دلیر فتح می شود. و همچنان در اثر ابتکار این رزمنده آگاه و فرمانده مدبر جنرال سرور مزدور کی جی بی که برای اغوای مردم نورستان لباس اسلام به تن کرده بود از پا در آورده می شود و مردم متدین نورستان از فتنه آن شیاد مکار نجات حاصل می نمایند.

او مرد متواضع، امین، پارسا، هدف مند و فرمانده قاطع و مدبر و سازش ناپذیر بود در سیمای مهذب او شهامت و ایثار خوانده می شد چون دشمن نتوانست او را در نبرد رویاروی به شکست مواجه سازد در پی دسیسه و توطیه افتاد و چندین مرتبه به ناکامی ماوجه شد سرانجام دست قضا بهانه شد و در اثر انفجار ماین که از طرف دشمن جابجا شده بود موتر حامل وی منفجر و این ستاره درخشان نهضت با خون گرمش رنگین می شود و از جام شهادت آب حیات ابدی را می نوشد در حالیکه سرود شهادت در لبانش نقش بسته بود با تن پاره پاره بسوی یار می شتابد. او بسوی خدا پر کشود و بار امانت را بر دوش ما نهاد.

روحش شاد، یادش گرامی و راهش پر رهرو باد.

رحمت الله هم د مظلومو ...

...ځوان رحمت الله د قوماندان عبدالجبار (حفیظ) زوی ؤ، قوماندان حفیظ لکه د خپل شهید زوی په شان د ځوانی په لومړیو شپو ورځو کې د خپل پلار د شهادت وروسته که څه هم د پوهنتون محصل ؤ خو هجرت ته مجبور او بیا په خپله منطقه کې د عملي جهاد له مخکښانو څخه ؤ، شهید رحمت الله چې په یوه دین دوسته شهید روزونکی او مجاهده کورنی کې زېږدلی ؤ. د خپل پلار څخه په درس اخیستلو سره له دین، علم او معارف سره ډېره مینه درلوده، د سلطان شهاب الدین له لیسه نه تر فراغت وروسته په ۱۳۹۱ کال کې د غزني پوهنتون د زراعت له پوهنځی څخه په لوړه درجه بریالی شو. شپږ میاشتې مخکې د شهید رحمت الله پلار او مور دده د واده په خوښی سترگی یخې کړی وې او له پوهنتون څخه دهغه د فراغت جشن په جوړېدو ؤ، خو د دین او اسلام دښمنانو د قوس د میاشتې په ۱۹ نېټه د مازدیگر پر مهال په غزني ښار کې د هغه د کور په څنگ کې د شا لخوا ورباندې ډزې وکړی او په پوره بې غیرتی او بې باکی سره یې په شهادت ورساو. (انا لله و انا الیه راجعون)

شهید رحمت الله که څه هم تنکی ځوان ؤ، خو هیلې او ارمانونه یې ډېر لوړ او عالي وو. د بیلگې په توگه هغه به تل هڅه کوله چې د خپلې منطقې له هغو ځوانانو سره، چې د جنگ او جگړې له کبله د جهل او تورتم فضا پرې حاکمه وه د زده کړې او تحصیل په برخه کې مرسته وکړي خو د اسلام دښمنانو چې هر وخت یې د علم او معرفت شمعې مړې کړې دي. شهید رحمت الله هم د همدغو جنایتکارانو لخوا شهید او د اندړو ولسوالی د نورو ډېرو مظلومو شهیدانو له کاروان سره ملگری شو.

له لوی څښتن تعالی څخه دغه ځوان شهید ته جنتونه او دهغه کورنی، خپلوانو، ملگرو او دوستانو ته یې صبر او نیکه بدله غواړو.

د کرزي او اوباما د خبرو...

دوو هېوادونو د ستراتیژیکو همکاریو برخه کېنل کېدای شي او پر اساس به یې له ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان کې د پاتې کېدونکو امریکایي پوځیانو شمېر، ځای او د ماموریت څرنگوالی په گوته شي. خو د سپینې ماڼی په خبرپاڼې کې دې مسلې ته اشاره نه ده شوې.

طالبانو د امریکا او افغانستان د ولسمشرانو ترمنځ د امنیتي موافقې د احتمالي لاسلیک په اړه په یوه خبرپاڼه کې خبرداری ورکړی چې جگړه به اوږده کړي.

طالبانو په افغانستان کې د امریکایانو حضور د ټولې سیمې د ناکراری سبب بللی او ویلي یې دي چې که امریکا لږ یا ډېر عسکر په افغانستان کې د هر څومره مودې لپاره پرېږدي مانا به یې دا وي چې امریکا تر هغې مودې پورې جگړه او تباهي غواړي او تر ټولو زیات زیان یې امریکا وینې.

طالبانو همدا راز له امریکا سره د هر راز پوځي معاملې لاسلیکېدا د کرزي او د امریکا د حکومت شخصي معامله بللې چې د دوی په وینا هېڅ راز قانوني اعتبار نه لري.

که د افغانستان او امریکا ولسمشرانو امنیتي موافقه لاسلیک کړه یو شمېر امریکایی پوځیان به له ۲۰۱۴ وروسته لږترلږه تر ۲۰۲۴ پورې په افغانستان کې پاتې شي.

د امریکایي پوځیانو په اړه امنیتي موافقه له پیله لانجمنه وه. تاکل شوې وه چې دا مسله د افغانستان او امریکا د اوږدمهالو ستراتیژیکو همکاریو په تړون کې شامله شي خو په ولسي جرگه او دغه راز د افغانستان د گاونډیانو د مخالفتونو له کبله دا مسله له ستراتیژیک تړونه وایستل شوه او وټاکل شوه چې له ډېرو خبرو وروسته د یوه جلا سند په توگه لاسلیک شي.

د افغانستان حکومت هم د امنیتي موافقې په برخه کې یو لړ انتقادونه او ملاحظې لرلې. افغانستان امریکا ته د پوځي اډو د ورکولو په بدل کې د اوږدمهالو پوځي او اقتصادي مرستو او د افغانستان د جگړې د پای ته رسولو تضمین غواړي.

افغان چارواکي وایي چې که امریکا وغواړي جگړه ختمولی شي خو امریکا د دې لپاره چې په سیمه کې پوځي حضور ته دوام ورکړي قصداً غواړي چې جگړه اوږده کړي.

برادر کریم خلیلی ۱۵۰۳ جریب ...

ریاست جمهوری بیش از هزار جریب زمین را در دامنهء کوه کروخ شهر کابل نیز غصب کرده است.

او همچنان از غصب بیش از یک هزار جریب زمین در ولایت بغلان یاد کرد و گفت که در تصرف این زمین ها برادر کریم خلیلی نیز دست دارد:

"در مجموع ۲۱ هزار جریب زمین بود که مقدار زیاد آن را برادر خلیلی صاحب غصب کرده بود، بدون فیصله محاکم ثلاثه آن را دیوار کرده بود، ۶۰ جریب زمین ملکیت شرعی وزرات دفاع است که چندی قبل از سوی حاجی نبی غصب و یک شهرک بنام حاجی نبی ساخته شده، مقدار دیگر آن در شهرک امید سبز است، محاکم فیصله کرده که آنها دوباره گرفته شود. تا زمانیکه زور خلیلی صاحب نباشد جناب حاجی نبی می تواند که یک هزار و پنجصد و سه جریب زمین را غصب نماید؟ غیر مستقیم آنها حمایت می کنند."

آقای زابلی محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهور را متهم به حمایت از برادرش در قسمت غصب زمین های دولتی کرد.

پیش از این نیز شماری از اعضای ولسی جرگه معاونین رییس جمهور را متهم کرده بودند که از بودجه دولت نزدیک به یک ملیون دالر را بنام کرایه منازل اخذ می نمایند.

هر چند مارشال محمد قسیم فهیم معاون اول ریاست جمهوری تا اکنون در این مورد ابراز نظر نکرده اما آقای خلیلی طی ارسال یک نامه به رییس جمهور کرزی دست داشتن به غصب زمین های دولتی را رد کرده و خواستار اعاده حیثیت شده است.

در همین حال رییس دفتر کریم خلیلی معاون دوم رییس جمهور در صحبت با رادیو آزادی تمام اتهامات کمسیون سمع شکایات مشرانو جرگه را رد کرد.

داکتر بصیر رییس دفتر معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان گفت:

"معاون صاحب دوم ریاست جمهوری و هم برادرش این حق را دارند که در مراجع عدلی و قضایی از خود دفاع نمایند، آقای خلیلی خودش رد کرده این مساله را که چنین چیزی وجود ندارد و گفته که اگر کسی سند علیه وی دارد ارایه نماید در محکمه، این خود به معنای رد کردن چنین ادعاها است، حاجی نبی یک تاجر است و اگر کدام سند علیه وی وجود داشته باشد باید به محاکم مراجعه شود."

رییس کمسیون سمع شکایات مشرانو جرگه می گوید که محمود کرزی برادر رییس جمهور نیز زمین های دولتی را در ولایت قندهار غصب و بالای آن شهر کی را به نام عینو مینه اعمار کرده است.

آقای زابلی گفت که در آینده نزدیک یک هیات این کمسیون بخاطر بررسی این قضیه به قندهار سفر می کند.

احتمال باقی ماندن نیروی ...

سربازان رزمی را که احتمالاً در افغانستان باقی می مانند، نمی توان پیشبینی کرد. با این هم، او حدس می زند که شمار آنها در حدود «۶۰۰ تا ۸۰۰» باشد تا در مواقع مورد ضرورت، مداخله کرده بتوانند.

مقام های غربی پیش از این تاکید کرده اند که نیروهای شان را براساس برنامه ریزی قبلی از افغانستان بیرون می کشند. در عین زمان، این مقام ها گفته اند که نمی گذارند افغانستان دوباره به پناهگاه شورشیان تبدیل گردد.

گیدو وستروله، وزیر خارجه آلمان فدرال به تاریخ دوم دسمبر سال گذشته میلادی به روزنامه «راینشه پوست» گفته بود: «ما در آن زمان همراه با شرکای ایتلافی خود برای چاه کندن و جاده ساختن به افغانستان نرفتیم، بلکه ما می خواستیم از امنیت خود دفاع کنیم. این کار ما درست بود».

وستروله افزوده بود: «سربازان آلمانی که در افغانستان جان شان را از دست داده اند، قهرمان هستند. من در این زمینه شک ندارم. اما ماموریت نظامی نیروهای بین المللی در افغانستان نمی تواند بی پایان باشد. ما اکنون به نهایت این جنگ رسیده ایم».

ناتو می خواهد تا پایان سال ۲۰۱۴ میلادی نیروهای جنگی اش را از افغانستان کاملاً بیرون بکشد. حکومت آلمان فدرال می خواهد سر از ماه فبروری سال ۲۰۱۴ به کم ساختن نیروهایش از افغانستان شروع کند.

یازده وزیر کابینه افغانستان ...

تالار ولسی جرگه حاضر شوند»

آقای اصولی گفت که وزاری دفاع، اطلاعات و فرهنگ، تجارت و صنایع، مبارزه با مواد مخدر، معادن، تحصیلات عالی، اقتصاد، امور داخله، انکشاف شهری، معارف و انرژی و آب هفته آینده استیضاح می شوند.

به گفته وی، این وزرا نتوانسته اند در سال ۱۳۹۰ شمسی بودجه انکشافی ادارات شان را بیشتر از پنجاه درصد به مصرف برسانند.

فیصله استیضاح این وزارت حدود یک ماه قبل گرفته شد اما سپس برخی از وکلا با این فیصله مخالفت کردند.

هفته های گذشته بیشترین بحث های اجلاس ولسی جرگه را همین مساله تشکیل می داد و اعضای ولسی جرگه نظریات متفاوت را در زمینه ارایه می کردند.

آنان استدلال می کردند که شماری از وزرا تازه به کار گماشته شده اند و نباید آنان استیضاح شوند.

اما آقای اصولی می گوید که به روز دوشنبه کمیته روسا فیصله کرد تا تصمیم اولی که ولسی جرگه مبنی بر استیضاح یازده وزیر گرفته است، به روز دوشنبه عملی می گردد.

وی در مورد چگونگی این استیضاح گفت:

« اینکه چهار روز به تعطیلات جلسه عمومی باقی مانده است، کمیتهء روسای ولسی جرگه تصمیم اتخاذ کرد که به روز دوشنبه ۱۱ وزیر به وکلای ملت شریف افغانستان توضیحات دهند و تصمیم در مورد آنها در همان روز اتخاذ خواهد شد.»

ولسی جرگه در گذشته وزیران را نیز استیضاح کرده است اما در بسیار موارد آنان به اظهارات وزرا قناعت کرده اند.

کمال ناصر اصولی می گوید که ممکن این بار نیز یک تعداد از وزرا به سوالات نماینده های مردم جواب قناعت بخش بدهند و دوباره رای اعتماد به دست آورند.

وسله والو طالبانو په نورستان ...

لروونکو ته خبرداري ورکړې چې ژر تر ژره خپلې دندې پرېږدي او د طالبانو په څنگ کې ودرېږي، که نه نو وبه وژل شي او کورونو ته به یې اور واچوي. نورستان ولایت یو له هغو ولایتونو څخه دی چې له پاکستان سره پولې لري او مسلح مخالفین یې ځواکمن دي.

دغه رنگ مو ناسې غوره امت گرځولی یاست چې پر خلکو گراهان او ستی

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
- رالېږل شوې مطالب نه مسترد یږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب ظفر بلاکونو شاته. خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com